مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

خالق رشید

۲۰۱۹/۰۵/۱۱

# رنځوره موسکا

## د لوی استاد علامه حبیبي په مړینه!



...او ځیره یې  ترپخوا داخل بل ډول را ته وځلیده ، بل ډول راته ښکاره شوه ، لا کوټي ته نه وم ور ننوتی چې سترګې یی راباندې ولګیدې ، پرځای را اوچت شواو هغه له برکته لاس چې کلونه کلونه یې دخلکو د فرهنګی شتمنیو د تشریح او معرفی په لاره کې چلولې و رااوږد کړاو دایی هم دوه ځله ورسره مل کړه  :

ـ راځه خدای دې راوله ، شه راغلې ،   !

دهغه استاد د ژوند وروستۍ شپې وې ، ناروغ و، اوس یی هغه توان او طاقت له لاسه ورکړی و، هغه چې یې د  ۵۷ کلو ادبی خدمت په بهیرکې په بې تابۍ سره درلود. هو هغه توان نه و ورپاتې ... خو بیایی هم قلم او کاغذ او کتابونه تر ځان را چاپیره کړي وو...  هغه به یی سره اړول رااړول ... دکتابونو په منځ کې یوازې د کوټې کړکۍ ته ورځیرمه یو کتاب په الماریۍ کې خلاص پاتې و ، هرڅوک به چې کوټې ته راننوتل ، فکر به یې کاوه چې استاد به هرو مرو دا کتاب چې خلاص پاتې دی اوس لولي ... خو داسې نه وه ، استاد اوس هغه کتاب نه لوست ځکه چې هغه ته یی د ور پورته کیدو سیک په ځا ن کې نه لید، خودهغه کتاب  پاڼۍ به چې کله دروازه خلاصه شوه ، نرۍ شمال یوه یوه سره اړوله را اړوله ... اواستاد به یوازې ورته کتل   ...

څنګ ته یې کیناستم، کله چې په خبرو شو ، خبرې یې هم لکه د پخوا په شان نه وې ، له یوې خوا ناروغ او له بلې خو په ناروغتیا کې سخت خواشیني او ګیله من...   چا ورته ویلی ول چې روسان او پلویان یې  نه غواړي چې ستا روغتیا حاصله شي اونه غواړي تا د درملنې په خاطر  ... ته ولیږي... ځکه چې هغوی فکرکوي چې که مو له ګروته



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولۍ

ووت بيابه ټوله دنيا راته سره تبۍ کړي ... دخواشينی اصلی ټکی يې هم دغه و، له خبرو يې هم دا څرګنديده لکه چي په لنډو به يي مخ يې را واړاوه او ويی ويل :
- نه پوهيږم چي دا وطن پالونکي، دوی چاته وايې ، دا به څوک وي ؟ له ما خو ګردسره ورک دي ... تاته درمالوم دي ؟
ما هم په لنډو ځواب ورکړ :
- نه ...
ده بيا په ستړې ساه خپلې خبرې ته دوام ورکړ :
- دريغه ... هغوی چی د وطن پرستی لاپي وهي ، تردوی دروغجن نور نشته ... دوی وطن نه لري ... ربتينې وطن پرستان نه دي ، ځکه دوی دنورو ترسيورو لاندې د هيواد پالنې او هيواد پالونکو، هيواد پرستانو د پيژندنې حس له لاسه ورکړی دی ... دا زموږ پروطن را نازله شوې ناروغي ده ... اوس نوې پيل شوې ... خدای دې له دې پسه خيرپيشوي ...
استاد ډيرخواشيني ښکاريده ، هغه ته به چې دوطن پرستي اوآزادۍ په ګناه له هيواده دباندې شپې ورځې وريادې شوې نور به هم خواشيني شو ، ورپه ياد به شوه چي ده په څه احساس سره دويښو اوځلمو هيلو او آزادۍ په خاطر ربتيا ويل او ربتيا به يي تر ربتينو پورې رسول ... د آزاد افغانستان ناري اوهيلې ... هود آزاد افغانستان ... او آزادو ولسونو ...
دغو خبرو اويادو داسې ښکاروله چي دده ناروغي يی نوره هم زياته کړې ده ، دصورت له درده به نالښت يې کاوه ، خوله موږ سره يي د خبرو لړۍ هم نه پريکوله ، يوځل يی لا داهم وويل :
**- زما پرمخ دوطن اصلي لارې يوه هم نه ده تړلې ، که ما غوښتي چي دا وطن پريږدم ډيره سخته خبره نه وه ، دا زما لپاره دسهار او ماښام خبره وه ، ډيرنورهم دلته وو چی لاړل او لاړل ، او نومونه يی هم لاړل ... پردی وطن د ميرو قدرکموينه ...**
دوطن پر ستونزو باندې خبرې کيدي ، چا به ويل پلاني له کندهار او يا له کوم بل خوا راغلی ... نوده به پوښتنه ترې کوله چی : څه حال دي ؟ خو له هغه به يی هم يوازې يو ځواب اوريده : استاده ، هلته هم حال خراب دی ، جګړه ده ، وژني دي ، روسان دي او ...
استاد جوړ نه و ، کله به يي چی دا ډول خبرې هم واوريدې ، نو بيا به يی دهيلو اوخوښيو کاروان د شونډوله سرو د خواشينيو پرلور کوچ وکړ ، له يوې خوا دغو حالاتو اوله بلې خوا دغولکه چی دده په اړه به يی ويل :
- که... ووت بيا نه راځي ، نه راځي ...غمونه هم بالا جوړولای شی .... دغو خبرو يی دردونه نورهم زيات کړي ول ، هرڅو ک به چي ورغلل، يوه هم نه ويل چي استاد مخ په ښه کيدو دی ، دهريوه به خوله پردې را خلاصيده چي ښه يی ورځ په ورځ خزاني کيږي ... هرڅوک به چی ورتلل ده به بياهم دخپل جسمي درد تر څنګ خپله دزړه له درده ډکه خبره هم په رنځوره موسکا کې ورته کوله :
- که يو ځل ووت بيا نه راځي او غمونه هم بالا جوړولای شي ...
خو دوستانو به له ناکامه بياهم ډاډګيرنه ورکوله، او ورته ويل به يی چې دا وړې خبرې دي، وطن دپيرۍ دغم پرسيند لاهوشوي ... داد پټي سر دی او پټی وروسته سور ور دي ...
اود استاد لويه ګيله بياهم دده په رنځوره موسکا کې هرچاته روانه وه ، داسې چي لاهم پرې ځوريده ، کله به چي روس پلوي لويان ؟ ورته راغلل ، هغوی ته يی هم داخبرې کولې ... خو هغوی به هم په سړه سينه اوبيواکه جوله ورته ويل چی ته اوس هم زموږ د سرسيوری يی ، هيڅوک ستا په باره کې دافکر نه کوي او نه ستا ملتيا اوپه وطن کې پاتيدا له ياده ايستلای شي ... يوه لوړسري واکمن يوځل لا داهم ورته ويلی وو چي موږ به کله هم تا او ستا ملتيا هيره نه کړو ... ده نورڅه نه وو ورته ويلي يوازې سرورته ښوروله و، خو وطن ته په خپلو کړو پښيمانه نه و،ده چې هرڅه کول د وطن اوعلم پرخوايي کول ، يوازې داسې ښکاريده چې دی پردې پښيمانه و چي هغوی ته يي خپل يد بيضا ور کړی و ... هغوی ته چې په ارزښت يې نه پوهيدل ځکه خو به يې کله کله ويل چی د بی ننګواو پردي پالو ملتياهم لويه ننګه نه ده .
هغوی هره يوه به خپلې لويی لويي خبرې چي استاد ته بي مانا ښکاريدې وکړي اوبيا به لاړل ...
يوه دوې ورځې وروسته که به چا پوښتنه وکړه چي هغه پلاني صاحب خوويل چې زه به دا وکړم ، هغه به وکړم ، هغه څنګه شو ؟ استاد به بيا خپله رنځوره موسکا ورته راغبرګه کړه چی :

خدايه څه شوه هغه ښکلي ښکلي خلک په ظاهر په باطن سپين سپيڅلي خلک
هيڅ خندا می له دي خلقه سره نه شي ژړوي مي هغه تللي تللي خلک
خبرنه يم چی وکومي خوا ته لاړشوه ليده نه شي هغه ماليدلي خلک ...

او له دغو رحماني وينو سره به يې سترګې راډکې شوې ، د تيرو خبرو لړۍ به يي هم لکه چی د زاړو سيل ته ډېره واړوې سره ګډه وډه شوه ، هرڅوک به چی ورسره ناست ول، دهغوي پراحساس به هم دده رنځورې موسکا خپل


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولۍ

اغیز وښانده ، ځکه چي اوس يي تر يوه خواشيني اولوغړن آسمان لاندې داسي خواشني غميزه له داسي يو سترانسانه چي د نامه ليک ته يي د تاريخ زرينو کرښو هرکلي وايه اوريده ...
داستاد د ژوند دری ورځي دخلکو پرخبره پرنابوده پاتي وې ، چی له خپل کارځايه مي چي دده دکورپرلمرلويده پروت و بيا پوښتني ته ورغلم ، پرلاره چي دده پرخوا ور روان وم ، دده د ليکنوشهکاری به مي سترګو ته ودريدې ، دده سيستان به را ياد شو او دده غور به په خپل تول پرتم سره زما مخي ته ودريد چي محمود غوندي نوميالي واکمن ته يي هم سر نه ټيېده ، بيا به شهنامه او فردوسی را ياد شول چي دهغوي دکارنامو روح به دده په ليکنو کي د وياړ او پرتم احساس کاوه ، دده کارنامي او زموږ لوی خوشال به را په ياد شو چي په څه شان يي موږ ته راوپيژاند او موږ يي پري وروزلو ...
داتولي خبري مي په زړه اوذهن باندې لاهم رواني وې چي بيا مي يي دکور دړه ور بيرته کړه ، په حالت کي يي ډيرتوپيرنه ليدل کيده ، دجوړيدو هم نه و، دجمال ميني په زړه کي دده رنځوره آه پورته وه، داسي چي ان آسمان يي ژړاوه... دخبرو اوډن يی هم نن په پخواني نظم کي نه و... بيا يي هم له خپلودواړو دردونو سرټکاوه ... ديوه ځوان خبره يي کوله چي ورته ويلي وو :
- دی پردي پالو ته مه ګوره او مه تري ډاريږه ... د وطن تولي دروازي ستا پر مخ پرانيستی دي ، يوازې امروکړه او ووايه چي له وطنه ځم ، ما ښام ته دي ترلوی خيبر، اړولی شم ...
خو استاد ته خپل ځان اوايمان ښه ښکاريده اوپرخپل بې درمانه رنځ هم ښه پوهيده ...
**په بې درمانه رنځ رنځور يم ...**
لوی استاد په رښتيا هم دا ژمنه کړې وه چي د يوې شيبي لپاره به هم له دغي خاورې ... له دغو خلکو بيل نه شي ، ځکه چي ده ددغي خاورې د پرتم اولويي په خاطردخپل قد په کچه شهکارونه ليکلي او هغه يي ګرده د پامير اوشمشاد پرتمينوځوکو اوځوانيوته ور ډالي کړي وو... هغه دغي خاورې ته لوی اوتلپاتي معنويت وربښلي و... ځکه هغه ددغه لوی پرتم ، ددغه لوی افغانستان پرلويي مين و... او هغه چي اوس څومره پري غمجن و، هغه به يي هم يادوله:
**لکه زه چي پري غمجن يم ، بل به نه وي غمجن هسي ...**
استاد له دغي خاورې اودغه وطنه تلونکي ځوک نه و ځکه يي ما ته ترغوږ راتيره کړه **څوځوانانو ته دده هغه خبره چي ده په دې نږدې وختوکي د لاسپوڅو تر غوږو ور رسولې وه ورسوم :**
- « زه له وطنه د تښتي سړی نه يم، پرما پسي د تيښتي بي ننګه خبری مه کوئ ، زه مي خپل يوعادي کتاب هم ستاسي پرتول لاسپوڅي حکومت باندي نه درکوم ... پرماپسي داسي خبرې مه کوئ ، هو هيله کوم ،مه يي کوئ ...»
دا دلوی استاد وروستی خبره وه چي ما هم پرهغه ورځ له ده سره خدای پاماني پروکړ ، هو، وروستی خبره ... دری ورځي وروسته مي يي د جنازې کټ ته اوږه ورکړه، چي خبره يي راياده شوه ... داسي چي ګواکي همدا اوس په خپله رنځور موسکا کي راته وايی :
**- ورته ودې ويل ؟ ګوره چي زما خبره دي له ياده ونه وځي !!! ...**

کابل - ۱۳۶۳ کال
دثور ۲۲


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ